مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ٢٠١٩/٠٧/٠١

# غزل

د سلګو شور او فریادونه وو ته، نه يې خبر
درد او فغان، سوي آهونه وو ته، نه يې خبر

مړ مې په خوب لېدې نه زه خو په ځان نه وم خبر
له خولې مې وتي اوازونه وو ته، نه يې خبر؟

مالګینې اوښکې مې د زړه په پرهرو بهېدې
غلیم اتڼ کاوه ډولونه وو ته، نه يې خبر؟

تا به ځپلم، بل ځپلم، ځان به هم ځپلم
په ما د هر چا ګذارونه وو ته، نه يې خبر

يه پسرلبه! مکمل لبونی ته وختې
چې ستا په غاړه ځنځیرونه وو ته، نه يې خبر

مصطفی پسرلی
01/07/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ